سرلوڅ مرادزی

۲۰۱۸ / ۰۴ / ۱۹

# منظور پښتين او د پنجاب وارخطايي!

منظور پښتين چي اوس په ټوله پښتونخوا کي د پښتون ژغورني غورځنګ مشري ورترغاړي ده، څه مهال وړاندي يي له اسلام اباده څو لنډي او اسانه غوښتني کړي وې.
په قبايلو کي د ګرځبنديز ختمول، د ښخ شويو ماينونو پاکول، د قبايلو ورک شوي ځوانان خوشي کول او برخليک يي مالومول او په ولسي سيمو کي د پوځي عمليانو بندول.
پښتين ويلي ول، پښتانه يوځوا د پاکستاني پوځ او بلخوا د ترهګرو منځ کي د يوه پلان له مخي راګير شوي او له دواړو لورو ځپل کيږي او دا خونړی لوبه بايد پايته ورسيږي. هغه زياته کړې وه، ترهګرو ته د پاکستاني پوځ او استخباراتو په مرکزونو کي ځای ورکړل شوی او هلته خونديدي.
پښتين دا هم ويلي ول، موږ د هغه چا په وړاندي په ښکاره ولاړ يوو چي پښتون قوم سره بې انصافي کوي او له عدالت سترګي پټوي، که دا د ښه يا بد طالب په نوم ياديږي، ISI ،MI ، د پاکستان پوځ او يا د امن په نوم کميټه وي!
د غورځنګ يادو غوښتنو ټولي پښتونخوا ته چي د پنجابي ښکېلاک په لومه کي د تېرو اويا کلونو راهيسي ښکېل او بندي ده، ملکوتي سا ورکړه او له غورځنګه يي هسي ملاتړ اعلان کړ، چي ساری يي پخوا نه يوازي په پښتونخوا، بلکي په ټوله سيمه کي نه وو ليدل شوی.
غورځنګ د پنجابي پوځ او ISI نه ماتېدونکی طلسم مات کړ او د منظور پښتين دي اعلان چي د اپريل په اتمه يي د پېښور په تاريخي غونډه کي وکړ او ويي ويل«د ISI او MI نوم اخيستل مخکي ګنا وه او چا له ډاره نه شو اخيستلای، نن يي په ډاګه نوم درته اخلم او په بربنډولو او اخيستلو يي وياړ کوم.»
دلته پښتين پنجاب ته، د خوشال بابا هغه کلام ورتازه کړ چي مغلو ته يي په خطاب کي ويلي ول:
**د جهان ډېرې خبرې**
**لور تر لوره يي لېښکرې**
**زړه مي نه ښوري له ځايه**
**غر څو هسي وي کڼه**
په داسي لوړه روحيه، پښتين د يوې پوښتني په ځواب کي چي اسلام اباد اتومي وسله لري، تاسو څه واياست، وايي چي د پښتون قوم سينه خو له هغې هم پنجابي څېرې کړې ده، پنجاب تر دي زيات پښتنو سره نورڅه کولای شي؟!
د منظور پښتين په ډاګيز او څرګند پيغام او د قامولی او پښتونولی په ريښتيني کلام او هوډ سره، پښتون قوم خپلو ملي موخو ته په رسېدو کي د څو لسيزو مزل، په څو اوونيو کي وواهه او پښتين د رحمان بابا دغه کلام:
چي په يو قدم تر عرشه پوري رسي
ما لېدلې دی رفتار د درويشانو
د يوه ځيرک او لايق سياسي درويش په جامه کي، په قومي او سياسي ډګر کي پلی کړ!
د پښتون ژغورني غورځنګ، لوی کمال دا دی چي پښتون قوم يي په يوه ليکه کي ودراوه. پښتون قوم کي يي د تورو سپين، کيڼلوري اوښيلوري او لرو بر توپير ايسته وغورځاوه او ټول يي هغه خطرونو ته چي پښتون ورسره د يوه قوم په توګه مخ دی، متوجه کړل.
اوس د منظور پښتين **سره توپۍ** د پښتون قوم او ټولو افغانانو، نر او ښځي پر سر د يووالي او پيوستون په سيمبول بدله شوې ده.
برو افغانانو نه يوازي په مشرانو جرګه، ولسي جرګه او دولت کي د غورځنګ ملاتړ ته ورودانګل، بلکي د اروپا په لويه وچه، امريکا او اسيا کي ميشتو افغانانو د غورځنګ په ننګه لاريونونه راويستل او د هغه د موخو په پليتوب کي د غورځنګ تر څنګ ودرېدل.
د پاکستاني رسنيو د چوپتيا او د سکوت توطيي سره سره، نړيوالو رسنيو د پښتون ژغورني غورځنګ ملي او انساني موخي خپرې کړې او د غورځنګ د مشرانو په تېره بيا د منظور پښتين، علي وزير او اندړ په وړاندي يي د


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رالېږلو مخکې په خير و لولئ

اسلام اباد ګواښونو ته غبرګون وښود او د داسي ګواښونو د پايلو په اړه يي د اسلام اباد د واکمنو غوړونه ورخلاص کړل!
دي سره په تړاو، وزيرو قومي پريکړه وکړه، که د منظور پښتين او يا علي وزير يو ويښته هم بې ځايه شي، يو پنجابي پوځي به هم دلته ژوندی پرېنږدي!
بلخوا د غورځنګ په ځواک، په کوزه پښتونخوا کي هغه کونګي مشران په خبرو راغلل چي ISI او پوځيانو يي پر خولو مهرونه لګولي ول او يا دوی خپله ځانونه ته د وېرې تعويذونه تر بالښتو لاندې ايښي ول.
«محمود خان اڅکزی په سوات کی جوړی شوی غونډی ته وويل چې مونږ څو ليوني نه يوو چې د پاکستان د دومره ظلمونو څخه وروسته هم شين بيرغ راواخلو، زمونږ د ميرمنو، ماشومانو، مشرانو, کشرانو، ځوانانو او پيغلو د تری تم کولو وروسته د پنجاب استبليشمنټ دې زمونږ نه دا هيله نه لري چې ستا شين بيرغ راواخلو او پر تاپسی روان شوو، د دی لپاره بل کوم ليونی وګوری.
نوموړي همدا راز وويل چې تاسی مونږ ته وواياست چې د قبايلو 1200 قومي مشران چا ووژل؟
په قبايلي سيمو کی په لسګونو زره پښتانه چا ووژل؟
چيچن، ازبک، عرب او چينايي جګړه مار چي راوستل؟
ښاغلي اڅکزي زياته کړه چي پاکستان اوس د 1977کال حالت کی نه دی، اوس يي حالت ډير خراب دی. که خپلو کړنو ته همدا رنګه ادامه ورکړي، نو خدای خبر که پاکستان روغ پاتی شي.خبرپال پاڼه»
البته بايد هېره نه شي، اسلام اباد هم کرار نه دی ناست. د ISI او پوځيانو څخه نيولي، د پنجابي ملايانو، امامانو، ګل خانانو او رسنيو پوري ټول په ګډه د پښتون غورځنګ په تخريب لګيا دي.
په دي تخريب کي د پښتنو په نوم ځيني ګل خانان هم ورګډ دی. په سوات کي ګل نصيب ملا، د سپين خان په نوم يو بل ګل خانی، عايشه ګلالۍ چي ځان په وزير قوم ورګډوي او نور نور. ګلالی خو لا دا هم ويلي ول«د پښتون غورځنګ اوسنی ځوان او انقلابي مشر منظور پښتين د افغانستان او هند د استخباراتو لپاره کار کوي، ځو ځلي يي له (را) يا د هند د استخباراتو سره کتنه هم کړي ده.»
ويل کيږي «خيبر ايجنسی کي د ISI جنرالانو هم د غزا ډول ته لاس واچاوه او هم يي په جوماتونو کي د جهاد اعلان وکړ، خو هيڅوک ورسره يو ځای او همغږي نه شول، وروسته اړشول چي خپله ملبشه په شخصي او عامو جامو کي د عام ولس په بڼه تمثيل او ډرامي ته راوباسي»
بلخوا پر ډيورنډ استعماري کرښه، **د پرنګي د لوی درستيز پاتريک کارتر** تر لمسونکي ګزمي وروسته، اسلام اباد وغوښتل پوځ کي يو شمېر کوز پښتانه ولمسوي چي ګونډي پر دي کرښه له بر افغان لوری هندي پوځيان، پاکستان سره جنګيږي، نو د خوست ولايت د ځاځي ميدان پر سيمه يي پوځي يرغل وکړ چي پای يي د پنجابي پوځ ماتي او رسوايي وه او کورونه ته يي د خپلو مړو جنازي يووړې!
تر جګړي مخکي پنجابي پوځ قبايلو کي وسلي هم ويشلي وې چي کوز افغانان له برو افغانانو او ورور د ورور سره وجنګوي.
په بله پرمختيا، په بنو کي پښتنو په وچ زور او ميرانه پنجابي وحشي پوځ له سيمي وتلو ته اړکړ او په ښار کي يي د لروبر يو افغان ناري سر کړې.
اوس چي د پښتون ژغورني غورځنګ د غوښتنو څو مياشتي تيريږي او اسلام اباد يي په پليتوب کي پاتي راغلی، د غورځنګ مشر منظور پښتين وايي، د نړيوال ضمانت او ژمني پرته، نور د پاکستان سره خبرو اترو ته نه کيني «اوس به د پاکستان د حکومت سره خبرې هغه وخت کوو چي نړيوال يي منځګړتوب وکړي»
منظور پښتين مخکي هم ويلي ول چي که پاکستاني محکمي (اداره) د دوي د غوښتنو په پليتوب کي پاتي راغلي، دوی به د ملګرو ملتو تولني ته مراجعه کوي.
درست پښتون له کندهاره تر اټکه
سره يو د ننګ په کار پټ او اشکار
خوشال بابا

پای


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په ځير و لولئ